**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت** :دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې .کیدای شي
ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي .مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي رياست**

**د تحرير اتو آمريت**

**د متحدالمآل څانګه**

**د متحدالمآل شمېره: ۴۱**

**نېټه: ۱۴۴۴/۷/۳ هـ ق**

**د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو، ديو انونو، مر افعه او ابتدائيه محکمو رياستونو محترمو منسوبينو ته!**

السلام عليکم ورحمة الله و برکاته

و بعد: د سترې محکمې عالي شورا محترم مقام د ۱۴۴۴/۶/۵ هـ ق نېټې جلسه کې د ۱۴۴۴/۶/۵ هـ ق نېټې د (۱۶مه) ګڼه تصويب په ترڅ کې د هغه مجرمينو د ساتلو په تړاو چې د ولسواليو په ابتدائيه محکمو او د ولايتونو په ښاري او استيناف محکمو کې په حبس باندې محکوم کېدل، لارښوونې وراندې کړې دي چې پښتو ژباړه[1] يې په لاندې ډول ده:

((په عمومي توګه، محبوسين دې د نيول کېدو نېټې څخه تر ۶ مياشتو پورې د ولسوالۍ په محبس کې وساتل شي. ۶ مياشتې وروسته دې د ولايت محبس ته انتقال شي او د لېږد له نېټې څخه تر يوه کال پورې دې د ولايت په محبس کې وساتل شي. په ولايت کې د يوه کال تېرېدو وروسته، که د محکوم بها حبس پاتې وي، د زون محبس ته دې انتقال شي او زون ته د سپارلو نېټې وروسته دې تر ۳ کلونو پورې د زون په محبس کې وساتل شي. که د زون په محبس کې د ۳ کلونو تېرېدو وروسته هم د حبس موده پوره نه شي، په دې صورت کې دې محبوس مرکزي زندان ته انتقال شي او د حبس پاتې موده دې په مرکزي زندان کې تېره کړي. دا جريان په هغه صورت کې دی چې فيصله په ابتدائيه يا استيناف کې قطعي شوې نه وي. که د ولسوالۍ ابتدائيه محکمه په يو کلن حبس فيصله کړې وي او د قضيې جانبين وراندې قناعت وکړي، په دې صورت کې دې بندي د ولايت محبس ته انتقال شي.

که له يوه کال څخه زيات تر ۳ کلونو پورې د حبس فيصله يې کړې وي او جانبين وراندې قناعت وکړي، بندي دې د زون محبس ته انتقال کړي.

او که تر ۳ کلونو څخه زيات حبس فيصله يې کړې وي او د قضيې جانبين وراندې قناعت وکړي، بندي دې مرکزي زندان ته انتقال کړي. که د استيناف محکمې په ۳ کلن حبس فيصله کړې وي او جانبين وراندې قناعت وکړي، په دې صورت کې دې بندي د زون محبس ته انتقال کړي او که تر ۳ کلونو څخه زيات حبس باندې فيصله وکړي او د قضيې جانبين وراندې قناعت وکړي، محبوس دې مرکزي زندان ته انتقال کړي. همدا ترتيب د تميز عالي رياست لپاره دی چې له پورتني ترتيب سره سم اجراأت وکړي.

د دارالانشاء عمومي رياست دې دا موضوع د متحدالمآل په بڼه ټولو محکمو ته واستوي.))

بناءً د سترې محکمې د عالي شورا د محترم مقام پورتنۍ لارښوونې د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې اړونده د تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو رياستونو ته واستول شوې تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې ترسره شي.

**په درناوي**

(لاسليک)

**مفتي عبدالرشيد "سعيد"**

**د دارالانشاء عمومي رئيس**

**ستره محکمه**

(مهر)

[1] د ژباړن يادښت: په اصلي متن کې "ترجمه دری" ليکل شوی. داسې برېښي چې دا متن له پښتو څخه دري ته ژباړل شوی دی.

دا سند د حقوقو د پراختيا نړيوال سازمان (IDLO)په واسطه د افغانستان د قانون د حاکميت د ځارونکي وېبپاڼه (ARLO)پروژې لپاره ژباړل شوی دی .د ARLOپه اړه
د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زموږ وېبپاڼې www.arlo.onlineته لاړ شئ .